مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

نظرمحمد مطمئن ۲۰۲۵/۱۰/۱۶

# افغان – پنجاب جګړه

د افغانستان – پاکستان ستونزې ژور تاریخي شالید لري، هر ځل انګریز پوځیان له همدې سیمو افغانستان ته ننوتلي وو، د افغان – روس جګړه کې پاکستان په سیمه کې د امریکا تر ټولو نږدې ملګری هیواد شو، اسلامي نړۍ بیا پاکستان ته د افغان جهاد د ملاتړي په سترګه او بنه نوم کتل.

پر افغانستان د امریکا/ناټو د یرغل پر مهال بیاځل پاکستان د امریکا/ناټو ترڅنګ ودرید، ډیرى د القاعده او طالبانو مشران یې پر امریکایانو خرڅ او د ګوانتانامو تر زندان ورسیدل.

د لوړي او منځنی کچې هر دوهیم طالب؛ له امریکا/ناټو سره د افغانانو جګړې پر مهال د پاکستان د زندان د سختو شکنجو خوند کتلی.

پاکستان تمه درلوده چې هغه ډول معامله به بیاځل د دوی نصیب شي کوم چې د افغان – شوروي جګړې پرمهال یې د افغان مجاهدینو په نه شتون کې؛ د ډاکټر نجیب له حکومت سره د روغې او جوړې تړون لاسلیک کړ، دا ځل یې تمه درلوده چې د طالبانو په نیابت به له امریکا سره د سولې او طالبانو د تسلیمۍ تړون وکړي. طالبانو ځیرک سیاست مخکې یووړ، سیاسي رهبري یې له اسلام اباد څخه په مهارت وایستله او سیاسي دفتر یې له امریکا سره د خبرو لپاره دوحه کې پرانیست.

همدارنګه د افغان طالبانو مشرتابه وتوانیدل چې پاکستان کې د تحریک طالبان په نوم ډلې مشرانو سره له پیله ښې اړیکې، ښه چلند او نفوذ ولري، تر څو د اړتیا صورت کې له همدې لارې هم پر پاکستان فشار وارد کړلای شي.

کله چې طالبان واک ته ورسیدل، د پاکستان د پوځ او پټو کړیو بشپړه تمه دا وه چې طالبان به په سېمئیزو او نړیوالو اړیکو کې له دوی سره مشورې او تفاهم غوره کړي.

هند هغه مهال شوک وخوړ چې امریکا او طالبانو د بهرنیو پوځیانو د وتلو اړوند مخامخ خبرې پیل کړې، هند ډیره هڅه وکړه چې په چټکی او دقت د طالبانو اړوند تګلاره کې تغیر ومني.

کله چې طالبان واک ته ورسیدل، د تمې او اټکلونو خلاف، دا ځل له هند سره په اړیکو کې ډیر پرمختګ وشو، برعکس د پاکستاني طالبانو اړوند د پاکستان ادعا "چې افغانستان کې شتون لري او له افغانستان څخه د پاکستان خاورې ته ننوځي، بریدونه کوي" همدارنګه د طالبانو ادعا "چې د داعش مشرتابه او افغانستان کې د بریدونو د پلانونو مرکز په بلوچستان او خیبر پښتونخوا کې دي" ددې لامل شوه چې د افغانستان او پاکستان اړیکې د دښمنۍ او مخامخ بریدونو کچې ته ورسیږي.

د منظور پښتین لویه غونډه، د پاکستان د پوځ او پټو کړیو په ګمان" چې پاکستاني طالبان به په پښتني سیمو کې له پښتنو ځوانانو سره په جګړه کې ښکېل شي"، مګر پاکستاني طالبانو له پوره ځیرکتیا څخه کار واخیست، ځان یې له پښتنو ځوانانو سره ټکر ته چمتو نه کړ، پایله دا شوه هغه ځوانان چې کلونه یې له پاکستاني طالبانو سره د یوځای کیدو مخه نیول شوې وه، همدا ځوانان به ډله ډله له پاکستاني طالبانو سره یوځای کیږي او یا به یې په کوم ډول حتمي مرسته کوي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**پاکستان ــ امریکا**

کله چې طالبان واک ته ورسېدل، امریکا یې په اړه له احتیاط ډکه تګلاره غوره کړي، چین هڅه وکړه چې د پاکستان او طالبانو اړیکې ورغول شي، روسیې او ایران له طالبانو سره د ښو او نږدې اړیکو تګلاره خپله کړه.

امریکا کې د جوبایډن اداري ټول پام د اوکراین جګړې ته و، د افغانستان اړوند یې ډېره لیوالتیا نه درلوده، کله چې ډونلډ ټرمپ واک ته ورسید، د اسرائیل ــ حماس جګړې زور واخیست، د اسرائیل ــ ایران اړیکې ترینګلې او تر جګړې ورسیدې، همدا وخت و چې د پاکستان د پوځ مشر عاصم منیر له ټرمپ سره په لېدنه کې ټېر ورته وواهه چې په هر حالت کې به د امریکا ترڅنګ دریږي، که ټرمپ ورڅخه وغواړي چې پر ایران هوایي برید وکړي، دوی چمتو دي.

په همداسې یو وخت کې عاصم منیر له ټرمپ څخه وغوښتل چې د افغانستان اړوند که پاکستان هر تصمیم نیسي، دا دې د پاکستان د نفوذ ساحه وپېژندل شي، ټرمپ سر ورسره وښوراوه.

دوېیم ځل چې بیا هم عاصم منیر او د پاکستان لومړي وزیر شهباز شریف له ډونلډ ټرمپ سره ولېدل، دومره یې سرونه ورته ټیټ کړل، ملکي لومړي وزیر ورته نظامي سلامي وکړه، او عاصم منیر د پخوا په څېر د ایران اړوند د هر خدمت ټېر وټکاوه، مقابل کې یې له ټرمپ څخه بیاځل او په تکرار وغوښتل چې افغانستان د دوی د نفوذ ساحې په لسټ کې درج کړي.

**پاکستان او وسلوالې ډلې**

د پاکستان د پوځ خلاف د تحریک طالبان پاکستان جګړه له کلونو راهیسې روانه ده، په لومړیو کې طالبانو د پاکستان په غوښتنه هڅه وکړه چې ترمنځ یې جوړجاړی وشي، پاکستاني طالبانو ډېر نرم او عادي شرایط درلودل، مګر د پاکستان پوځ یې پرته له شرطه د وسلې په ځمکه کېښودلو غوښتنه کوله، بالاخره پاکستان پر افغانستان فشار زیات او له افغان حکومت یې وغوښتل چې پاکستاني طالبان لاس تړلي ور تسلیم کړي، افغان حکومت وایي چې دلته یې پټنځایونه نشته، ورسره کښېنې او د خبرو له لارې ستونزه حل کړئ.

بلوچان هم له څو لسیزو د خپلو حقونو ترلاسه کولو لپاره د پاکستان د پوځ په وړاندې وسلواله جګړه کوي.

په وروستیو وختو کې کشمیریانو هم د خپلو حقونو ترلاسه کولو لپاره لاریونونه پیل کړي.

افغان حکومت ادعاء لري چې پاکستان یې په وړاندې داعش ډله تقویه کوي، په بلوچستان او خیبر پښتونخوا کې روزنیز کمپونه لري.

**د جګړې لپاره فتوی**

افغانانو هر وخت د پاکستان له ولس سره ښې او نږدې اړیکې ساتلې، د مسلمان او ورور په سترګه یې ورته کتلي، پاچا ظاهر خان ونه غوښتل چې په بده ورځ "چې کله بنګال له پاکستان څخه جلا کیدی" پر پاکستان برید وکړي، مقابل کې هرکله پاکستان په بده ورځ د افغانستان ولسونه ځورولي دي.

پاکستان لویې مدرسې لري، ډېرې مدرسې پاکستان کې دننه د جګړې خلاف دي او د پاکستان ضد شورش ته جواز نه ورکوي. بلوچان د ملت پالنې او خپلو حقونو د ترلاسه کولو داعیه لري، پاکستاني طالبان په شمالي او جنوبي وزیرستان کې د پاکستاني پوځیانو د عملیاتو او پښتنو سره د ظلمونو مقابل کې د جهاد داعیه لري.

کله چې افغان طالبان واک ته ورسېدل، د دوی مشرتابه، دفاع او کورنیو چارو وزارتونو مشرانو لخوا له کشرانو طالبانو وغوښتل شول چې د پاکستاني طالبانو په لیکو کې د پاکستان ضد جګړه ونه کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

جګړې د قومي جوړښتونو، د ملتونو، یا هم د یرغل مقابل کې کیږي، هره جګړه د یوې حقې داعیې له امله کټل کېدای شي، مګر له پاکستان سره د افغانانو جګړه او یا هم له افغانانو سره د پاکستان جګړه، د قوم او ملت په نوم نه شي کټل کیدای، تر څو د جګړې لپاره جواز تر لاسه نه شي.

د پاکستان له جوړښت بیا تر تیري اونی، هرکله چې پاکستان د افغانستان ضد چلند خپل کړی یا خو یې بریدونه کړي، په وړاندې یې افغان پوځ ته د وسلوال برید لپاره کومه فتوی نه وه ورکول شي چې مقابل کې یې جګړه مقدسه وګڼل شي، وسلوال د جنت په نیت سرښندنه وکړي.

اوس چې واک کې علماء دي، دوی د بل چا فتوی ته اړتیا نه لري، همهغه و چې د ددې اونی په شروع کې یې پر پاکستاني پوځیانو/سرحدي ځواکونو بې رحمه بریدونه وکړل؛ له افغان طالبانو سره د جګړې د جواز پوښتنه ځکه نه وه پاتې، ویل کیږي چې د خپلو شیخانو په اجازه یې پر پاکستاني لوري برید پیل کړي، مګر هیڅکله داسي نه بریښي چې پاکستانی لوری به د پاکستاني حقه او غیر دولتي علماوو څخه داسې فتوی ترلاسه کړي چې د افغان ولس او افغان اردو مقابل کې د جګړې جواز ورکړي.

پایله دا شوه چې د افغان – پنجاب جګړې له امله نور پاکستاني او افغاني طالبانو سره به د پاکستان د پوځ خلاف جګړې ته د فتوی او اجازې اخیستلو اړتیا هم له منځه یوړل شوه. ښکاري چې پاکستان پر افغانستان د برید له امله لویه تېروتنه کړې، که جګړې ته دوام ورکوي، لا زیات زیان به ویني. ښه داده چې ټولې اړوند او را ټوکیدلې ستونزې د خبرو او مفاهمې له لارې حل، د افغان ولس سره د دښمنې پرځای پر وړ چلند باندې غور وکړي.

**د جګړې ګټې او زیانونه**

زیان

که خبره د الوتکو، بمونو او اټوم بم کیږي چې پاکستان یې لري او افغانستان تش لاس دی، ساده جواب یې دادی چې امریکا/ناټو تر پاکستان او بل هر هیواد پرمختللي الوتکې، بې ۵۲، ایف – ۱۶، د بمونو مور او هر ډول زروې، کیمیاوي او بیولوژیکي وسلې په افغانستان کې وکارولې، مګر امریکا/ناټو ونه توانېدل چې د ټکنالوژۍ دا نابرابره جګړه د عقیدې او افغان ولس په وړاندې بریا ته ورسوي، بلکې امریکا شرمیدلې ماتې وخوړله.

د فرضي کرښې ډیورنډ دواړو غاړو ته پښتانه میشت دي، دوی یو قوم، یو مذهب او یوه عقیده لري، دواړه لوري د پاکستان د پوځ او پټو کړیو په وړاندې حساس او تر ډیره یې په وړاندې وسلوال غبرګون ته چمتو ښکاري، بلخوا افغان طالبان په چریکي جګړو کې نږدې ۲۶ کلنه عملي تجربه لري، ها خوا پاکستاني طالبان او بلوچان هم له دې حالته ګټه پورته کولای شي، خپل بریدونه زیاتولی شي. پاکستان کې سیاسي او مذهبي ګوندونه هم د پوځ لخوا وخت په وخت ځپل شوي، تر ټولو لوی ګوند د عمران خان دی چې د پوځ په وړاندې دریدلي، دې ټولو مسایلو ته په کتو، ښکاري چې د افغان – پنجاب جګړه کې به ګټونکي افغانان وي ان شاء الله.

**ګټه**

پاکستان هڅه کوي چې د افغان طالبانو مقابل کې غیر پښتون افغان قومونه جګړې ته وهڅوي، طالبانو هم ونه شوای کولای په تیرو ۴ کلونو کې په کور دننه او بهر ټول او یا اکثریت افغانان راضي وساتي او یا په حکومت کې برخه ورکړي، د تعلیم برخه کې ستونزې، د ولسي خلکو پرمخ ترلي دروازې، د ژوند په ډیرو برخو کې محدودیتونه؛ له دې ټولو ستونزه سره سره، د پاکستان په وړاندې د طالبانو د جګړې ملاتړ هر افغان وکړ؛ هغه که په کور دننه او یا دباندې دی، که د طالب له تګلارو سره موافق او یا مخالف دی. له پاکستان سره جګړه به افغانان متحد او یو موټی کړي، پرته له شکه؛ د پاکستان د پوځ د اهدافو "د اوسني نظام کمزوري کول یا تغیر" خلاف، د جګړې له امله به اوسنی نظام د ولس پراخ ملاتړ ولري، قوي به شي او عمر به یې لا زیات شي.

پای

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ